# په سپوږمۍ ګلونه



تواب ترالجي

Pukhto.Net

شائع کوونکی:
شاه حسین چکدره دربار
ډاکټر
محمد عزیز پبلشر
د المرتضیٰ پرنټنګ پریس
ایبټ آباد نه چاپ کړو۔

۱۹۹۹—۶—۲۸

Pukhto.Net



دَ یوشتمې صدۍ د بام که مونږ په پام کړو په کام
لرې خونه ده چې زرغون شي په سپوږمۍ ګلونه۔

# په سپوږمۍ ګلونه

لیک:-

ثواب ترالي

دربار چکدره دیر-

فون:- ۷۶۱۳۸۸
کوډ:- ۰۹۳۶

Pukhto.Net



ټول حقونه د لیکونکي په نوم محفوظ دي۔

کتاب ________ په سپوږمۍ ګلونه

شاعر ________ تواب بے ترالي

کتابت ________ تواب بے ترالي

اېډیشن ________ وړومبے

28.6.99

د چاپ نېټه ________

65.00

بیعه ________

Pukhto.Net



# فهرست

غزلونه

نظمونه

آزاد نظمونه

سندرې

قطعې

Pukhto.Net


# تړون

دَ هر هغه چا په نوم

چې په زړه کښې مينه

لري

Pukhto.Net



# خپلې خبرې

په دې کتاب کښې زما د ذهن صفحه څرګنده او د زړه صفحه اواز دے چې زه په خپله هم پوهه نه يم چې دا ما د قلم په ژبه څنګه بيان کړي دي - په دې وخت کښې نه زما څه مطالعه وه، نه د پاڅه تعاون - ولې چې بعا ده ورځو کښې زموږ په علاقه کښې نه څه ادبي غونډې کيدې نه څه مشاعرې. اوس اوس څه ادب د ونې ځانګې خورېږي او خوشبوئي خورې -

د شعر ونه ښه دې که نا ښه - دا فيصله به اوستاسو کوئ - ځکه چې په دې مصروف وخت کښې تاسو د تبصرې د پاره چا له ورکول، بيا کتل او څه بدلې ليکل هسې د بل وخت ضائع کول ما ته ښکاري -

زما د پاره خو دا شعرونه داسې وو چې کله به ما څه واقعه وليده نو زما په ذهن به بوج جوړ شو. چې کله به ما غزل يا نظم وليکلو نو زما په روح به د سکون او خوشحالۍ څادر راخور شو -

دا کتاب به د ليکونو ادب د بوټي د ګل غوټۍ شي که څومره ئې د تنقيد خزان ترمې ترمې هم کړې، خو زما د شوق، فکر، جذبې او احساس تخم به خاورې نشي بلکه زر غوړېږي به. الله تعالیٰ دې هر چا له وس ورکړي چې د خپلې مورنۍ ژبې ليکونو خدمت وکړي - امين

ډېره ډېره مننه

ثواب ترابي

Pukhto.Net



# حمد

د دنیا چې څومره وجود دے
ستا طاقت هر ځائے موجود دے

دا طاقت خو ربه تعـ ستا دے
هر بنده ترینه اګاه دے

چې وجود دے ته سجود دے
ستا طاقت هر ځائے موجود دے

مونږه تا خپل آقا منو
هر یو حکم به ستا منو

نه منو بلے خو مردود دے
ستا طاقت هر ځائے موجود دے

ژوندون تیر به ستا په یاد کړو
په دې یاد به تل زړه ښاد کړو

دنیاوي ژوند هم محدود دے
ستا طاقت هر ځائے موجود دے

دا دنیا چې دې پیدا کړه
هم فنا دې به هر خوا کړه

نور قوم دې اوس سرود دے
ستا طاقت هر ځائے موجود دے

٢٨ - ٧ - ٩٠

Pukhto.Net



# نعت

طمعه درنه کړو د شفاعت نبیؐ
ته خو مخلوقاتو له رحمت نبیؐ

ډېر دې په دیدن پسې لېواله یم
دا مې په زړګي کښې دے حسرت نبیؐ

چرته به هم نوم ستا د چا هېر نشي
لوړ په هر قدم ستا حیثیت نبیؐ

هرو به ترې هم څوک انکار وکړي
ستا هره خبره حقیقت نبیؐ

وي به څه صفت زموږ د خوارو خلقو
ستا خو الله تعالیٰ کړے دے صفت نبیؐ

تا چې نیغه لار موږ ته ښودلې ده
دا زموږ د پاره لوئې دولت نبیؐ

ته چې یې عظیم داسې به یې عظیم
هیڅ څوک به دې هېر نه کړي عظمت نبیؐ

زه ثواب له ګېر ووم په زندان کښې هم
تا به یادوم په هر حالت نبیؐ

۱۱ - ۴ - ۹۱

Pukhto.Net



خلق خیالونو کښې نور څه خوراغو نمړي ګلونه
ستا د ځوانۍ په بلي حُسن زرغونې ګلونه

نور دي په لوټه تبره کړے ګرځے مسئله غمړه
رقیبه! څنګه به ته رېبې د سیالۍ ګلونه

تا چې دولت د دیدنونو ذخیره کړو اشنا
داه! طوفان به ترمې ترمې کړي غوټۍ ګلونه

ستا د نظر په سر خبر څنګ په لښکر کړي اثر
په تا اثر نلري له صوبز در ورنوکیږي ګلونه

شپولونه څومره له ازغن لارکښې راځي، راځي دي
راځۍ چې مال د محبت کړو په نمړي ګلونه

د یو شتمني صدید بام له صوبز به پیام کړو یو ګام
لري خونه ده چې زرغون شي په سپوږمۍ ګلونه

تواب! سند که د نفرت دوړې له ورکړو نو بیا
کړي د لیبنتو دوي څانګه به دلي ګلونه

۱۴-۸-۹۷

Pukhto.Net



ځوانه ځواني مې ترينه زار ده ماته هيڅ مه وايئ
د يار د کور په لور مې لار ده ماته هيڅ مه وايئ

ديدن له ځم ديدن به وکړم پرېږدئ لاړ چې شمه
ليلى ځما په انتظار ده ماته هيڅ مه وايئ

چې تسلي نه راکوئ نو خفګان مه راکوئ
ضبر زندګي له مې په دار ده ماته هيڅ مه وايئ

چا به زما لار ته نيولي وي معصومې سترګې
ورله ورځم زما تلوار ده ماته هيڅ مه وايئ

دا څو عزت ګڼم اې خلقو! چې د يار مينه لرمې
صفا لمن زما داغدار ده ماته هيڅ مه وايئ

په لار د [illegible] روزه ثواب ګڼمه
غلطي خو بيا ترله د اغيار ده ماته هيڅ مه وايئ

۲۱-۱۲-۱۹۹۱ دبير

Pukhto.Net



نور مې نشته توان د هجران سیوري ته
ډېر دې ژوندون ګران سیوري ته
د هجران

وائې چې ځم ځنې چېرته راپسې شي
ناست دي نادانان د هجران سیوري ته

واسې ورک د ځان هم د جهانه شو
ژاړي ملنګان د هجران سیوري ته

ګوري چې ګلونه په انګر کښې خوک
خو به شي پښېمان د هجران سیوري ته

شم چې د یادونو په څادر کښې پټ
تېر شي سېنه دوران د هجران سیوري ته

ته راځې کمې ستا د بنائست په باغ
ګوره دېدن باران د هجران سیوري ته

چا نه دا نقاب په خپله لرې دي
ګمان دا ایمان زیان د هجران سیوري ته

۱-۷-۹۹

# ستا نه قربان وطنه

ستا د ښائست په رنګ کښې وینو د ډوب ځان وطنه
ستا نه قربان وطنه ، ستا نه قربان وطنه

تاریخ ګواه دے په دې زکله غیرتیان اوسیږي
څوک ورته څپک تیلے نشي بهادران اوسیږي
هر یو بنده د دې وطن دله دوستان اوسیږي

ته چې آباد ئې ، وي پوره زمونږ ارمان وطنه
ستا نه قربان وطنه ، ستا نه قربان وطنه

قوم به روښانه په هر لور کړي ننګیالي د وطن
په سرو اورونو کښې لوبیږي سیلي د وطن
د سر پروانګي ورو داګلي لیوني د وطن

د دنیا خلق درته ګوري اوس حیران وطنه
ستا نه قربان وطنه ، ستا نه قربان وطنه

زمونږ نه هېر نه دي وطنه د تېر جنګونه
هم راته یاد دي د دښتو له هم د غم جنګونه
دا وو لوی څه خواږه وطنه! ستا په سر جنګونه

جوړ به ستا او چته وو په هر میدان وطنه
ستا نه قربان وطنه ، ستا نه قربان وطنه

Pukhto.Net



موږ وېره د چانه ځکه نه یو، که څوک هر څه وائي
ټول دې خبر چې موږ څه یو، که څوک هر څه وائي
د مېړو مېړونه خو ښه یو، که څوک هر څه وائي

مقابله به موږ کوو د هر طوفان وطنه
ستا نه قربان وطنه، ستا نه قربان وطنه

زموږ وطن ته دې په بد نظر څوک پام نه کړي
دشمن دې واوري ارادې به مو ناکام نه کړي
هر یو خبر دې ازمېښتونه دې مدام نه کړي

چې ته په خوا یو دې هم زړه نه شي خزان وطنه
ستا نه قربان وطنه، ستا نه قربان وطنه

تل نیکاره شوي به دې ځای ځای د همت نښې دي
ملا ځمکه ستا دې په ځلا دي د طاقت نښې دي
چې ته هم نشې پېژندې د حقیقت نښې دي

چې هر بد نیت راغلی، بیا تلی پښېمان وطنه
ستا نه قربان وطنه، ستا نه قربان وطنه

۱ - ۱۲ - ۹۹

Pukhto.Net



څنګه ته وائې تالا هیڅ هم نه دي
لېدلي یاره تالا هیڅ هم نه دي

ډېرو په سینه کښې سرونه بایلل
رتیل د خلقو اشنا هیڅ هم نه دي

ما د رته سرخیل په تلي کښې ایښې
یو پوټی ورکړه زما هیڅ هم نه دي

نرۍ نرۍ ملسۍ مسکۍ شوه جینۍ
ما خو ویلي بېګا هیڅ هم نه دي

خلق له ستائې د دنیا خوندونه
خوندونه نور بې لتا هیڅ هم نه دي

دا د منزل په لور منزل په اتهل
عقل ناکام شي نو بیا هیڅ هم نه دي

نوابه! دومره یقین مه کړه په حیا
هر څه دروغ دي رښتیا هیڅ هم نه دي

۹-۳-۹۹
(د فیصل اباد نه د راتلو په لار)

Pukhto.Net



ګړنګ لا اوازونه په تیاره کښې دې کېږو څله
ماله یې په تېر یادونو خوږ زړګی چیچېږو څله

خلقو مینه کوله دا څه غلا خولا زه نه کووم
تل مې په کوڅو کښې ځغلوئ لا په ورو څله

سترګو د بنړو نه یې جوړې کړې وې چیچړې مدام
کړمه یې غلبیل غلبیل مدام په دې چیچړو څله

نور غرض یې نه وو زړه د مینې لیسې تلے وو
دا ملنګ د مینې یې کوڅې نه وشړو څله

نه کوے چې مینه نو سینګار هم هسې مه کوه
روانه په کوڅه یې شرنګ او وباسے د بنګړو څله

نیت چې یارانې ته د ثواب سره یې نه وو نو
بیا یې لا د زلفو په زنځیر دې وتړو څله

۲۶ - ۱۲ - ۹۰

Pukhto.Net

۱۵

# نوے کال دې مبارک شه

نیمه شپه وه زه اوده ووم
څه اوده وومه خوبه ووم
په فکر و لټو کښې ډوبه ووم
یو ملګري مې غږ وکړو
ما وې هلو
ده وې هلو
نوے کال دې مبارک شه
ما وې تېر شو ډېر کلونه
نه د تلو نه ئې خبر شوم
نه د راتلو نه ئې خبر شوم
وې خبر به شه خلق
چې بنګلې ئې وې محلونه
هم موټرې د راحتونه
چمنونه هم باغونه
نوې نوې غزونه هم سیندونه
کمې د دنیا ئې صفتونه
نه لري څه ارمانونه
ډېر اوږده ئې وي لاسونه
په غرور به دي قدمونه
د دنیا اخلي خوندونه
موږ د څه نه خبر نشو
موږ د څه نه خبر نشو

Pukhto.Net



ارمانونه مو قتلیږي

بوستانونه تالا کیږي

روغ ځایونه مو ورانیږي

تش دردونه زرغونیږي

تل د غم باران وریږي

پرهرونه تازه کیږي

ګریوانونه مو تل شلیږي

ورک غمونه راځوانیږي

بس غربت را نه زاریږي

د دنیا مو دغه حال دے

هغه جهان کښې به څه کیږي

هغه جهان کښې به څه کیږي

مینه څنګه به پیدا شي

لرو زړه کښې نفرتونه

رور به رور ته رور ونه وئ

چې خراب صودي نیتونه

وعدې کله پوره کیږي

د دروغو سوګندونه

د دنیا حرص زیات شوے

رانه هیر دي خپل ځانونه

عملونه څنګ صحیح شو

چې نه ګورو ثوابونه

Pukhto.Net



هر غمګين زړه چې سنګين شو
آزار وُ دَ ډېر چا زړونه
معافي به څنګه کيږي
ګناهونه شو پنډونه
خوئ خصلت کله بدليږي
بدل نشو عادتونه
دَ حيا سترګه ړنده شوه
نيلاميږي عزتونه
چې نفرت هر ځائے خور شوے
دَ حيا وران شو کورونه
خپل قسمت له لته وړ کړو
څنګ به ښه شي قسمتونه
د احرام دي ناروا ده
اخلو مونږه چې سودونه
هډو رحم چيرته نشته
لوټ کوُو دَ بل مالونه
شي پښتون به کله پوهه
نه خبره شي ځنګلونه
دنيا لاړه له بدل شوه
بدل نکړل مونږ خويونه
پکار داده پردي خپل کړو
خپل ګنهو دَ غاړې غوړونه

Pukhto.Net



خپل وجود په وس کښې نۀ دے
غلط کار کړي اندامونه
څوک تپوس ئې چانه وکړي
بې ګناه ورک شو سرونه
دا په يو پټي کښې پوله
سمه زمکه کښې بندونه
ګودرے کله به پوهيږو
چرته نه کړو سم کارونه
هر قدم زمونږ غلط دے
په خيال نن دو قدمونه
چې علمونه په پيسو شو
غريبان څنګ به کړي علمونه
څوک د بل په غم به ژاړي
يو د بل نکړي غمونه
د غرورِ ښادر تري تاؤ دے
شبقلور اکمل چې داغونه
په زخمونو دوی ئې مالګې
چرته نشته مرهمونه
نن قلم به څنګ ګويا شي
چې خرڅيږي تحريرونه
حق ناحقه پيري بل وائي
ګناهګار وي قلمونه

ژوند دې چا هم محفوظ نه دے
په نړۍ کړې دي ما لټونه
چې د حُسن رنګ بد رنګ شي
رنګ په رنګ کیږي ستمونه
نن له سبه سړے څوک ګڼړے
خوږې تا ته به دامونه
دا جادو منتر چه بر عام شو
چُف کوي په بل دامونه
ته که مړے او چوے خو بیا هم
پوره کیږي به شرطونه
تل خزان چې په چمن وي
ځنګ زرغون به شي ګلونه
زه ئې هر وخت تابعدار وم
حاله ئې را الیمړل تمتونه
نوے کال دې د خوشئ
چې ئې ژوند نوے د مزو شي
مونږ له هر یو کال الزام دے
هر یو کال ته مو سلام دے

بټ خیله ملاکنډ ایجنسی - ۹۹-۲-۱۲

چې په وس ښېښه سمندر د ارمان نه دے
حق حیران یم چې په خود ښېښه مې ځان نه دے

که هر څو مره خوشحالي هم ورله راشي
چې بیا ته نه یې د زړه کور مې ودان نه دے

ستا په محفل کښې مې ګیلې پټولې ګونګې شي
دا زما دے څه د بل چا نقصان نه دے

ستا د فکر د انصاف ستړې پرندې دي
پرورش د خپل خواهش راته ګران نه دے

چې مې دومره د غرور ستا ورکه نکړه
جو مې لیدلے تا د اوښکو باران نه دے

ستا په زړه کښې د ځان قدر څنګ پیدا کړم
په سپوږمۍ مې د ګلو کر څه اسان نه دے

که ستم او غم ازغي لا د ښې خواره کړي
تا چې پرېښې دي نو اب دومره نادان نه دے

٦-٥-٩٩

Pukhto.Net



ناکامي ما ته پوره شي خوږې خلقو ته هم برخېک ما
خلق وائي دې به ورک شي ناکامي بد نه کړې ورک ما

بينا هم ونه کړ زما دغه وخت منه شو ملګره !
چې د يار د سترګو تله نه ليدلې دې چمک ما

د فکر والو غېر کښې هر ژوندې به خپله مخه ليسي
خو دنيا کښې زانيولې صرف د مينې دې مسلک ما

د دنيا هر مسيحا مې علاج وکړو خو ښه نه شوم
ښکاري اوس به زه ښه کېږم ګټولې پته درک ما

د يقين محل به څنګه د الله وران کړې اے رقيبه!
اے رقيبه! چې د خپل ذهني جهان نه وستې شک ما

چې د يار ياد ونه اخلي د قرآن د شو ګيره و نه
ځکه تل په تنهايي کښې هم برجامونه مات کړل هم دې ما

۴-۱۱-۹۱

# سندره

دَ خېل وطن دَ پاره ښه په زړه وګړه جنګ پښتو نه
وګړې څنګ پښتو نه
وطن نه زار شه

تل دَ پښتون غیرت یادېږي ، دنیا خبر ده
اغیار يې ستړي نه شو څېړي ، دنیا خبر ده

تاریخ نه تا ریخونه هم ټټول حرف دي ستا دَ ننګ پښتو نه
وګړې څنګ پښتو نه
وطن نه زار شه

پښتون شمله به ښکته نه کړي ، که سرې غوڅ شي
تل به وطن دَ پاره ښه کړي ، که سرې غوڅ شي

لمر ځېږي دا جهان چې ستا دَ تورې اوښې شړنګ به پښتو نه
وګړې څنګ پښتو نه
وطن نه زار شه

دَ دښمن توره چې پټوي شي ، حیران ولاړ وي
چې نر پښتون ورته نندرې شي ، حیران ولاړ وي

په زړه دَ وطنه زغلوي تا فرنګ پښتو نه
وګړې څنګ پښتو نه
وطن نه زار شه

۲۴-۶-۹۰

Pukhto.Net



پوره دې نه کړل پېروني لوظونه
څنګه دې واورم نني لوظونه

چې ته یو نیم خو به پوره شو پلنې
شو را ته یاد ستا پخواني لوظونه

خبره ما سره صفا وکړه نن
ځان سره کېده اماني لوظونه

ګورې تا څه موندي لوظونو لښې دي
را ته به ډېر جوړ کړي وراني لوظونه

څه چې دالبر ژوند په خوندرنګ کښې تېر کړو
ژوند دے فاني هم دي فاني لوظونه

ته به وې دې شو په لوظونو خوشحال
حاله تل شي پرېشاني لوظونه

برباد دې نکړې، کړه تو آب ته آباد
دا ولې کله وداني لوظونه

۱۰ – ۷ – ۹۱

Pukhto.Net



تصور نشو رنګین
ځکه تل یم غمګین

په دنیا مې هر چا پرتلې
تل ښکاریږمه مسکین

په غمګین زړه چې خندا کړې
په مخ دې شه آفرین

د هر چا نظر کښې ځیک یم
په ما نکړې څوک یقین

بنده څه دے هیڅ هم نه دے
بس یو لوښے دے خاورین

چا دې مینې غیږ رانکړه
د هر چا زړه دے سنګین

زړه صفائۍ راته نکړه
ما دعو که کړې په مخ ښیین

د شعور نظرې ورک شو
نه راځي چې ګل ورین

څنګه څوک به ورته ټینګ شي
چې نظر دې بم ورین

ناکړدې ئې ذهن چیرې
څنګ تواب به شي ذهین

۲۲ ۳/۹۱

Pukhto.Net



# شر او شور

دا چې چرې دې په هر ځائے کښې شر او شور
نو بیا ګیلا دې رور د یاده کړي اوس

دې دنیا کښې روغ سړے په سترګو ړوند شي
خو افسوس به ورله ورشي بیا په ګور

۹-۲-۵۰

# غیرت

چې څوک بل نه نوے لمحه شي به خوار
خیال مقصد له به خپله ګوري نه ازار

غیرت دا دې چې همت به همېشه کړو
قدر زړونو دې د خلقو په ورځ بیګا

۸-۳-۹۰

Pukhto.Net



بیا ز د فکر مې را پرېوت په هوا آسمان دې شمکور شو
ستا د حسن میلده کښې د فطرت جام مې نسکور شو

دا د حسن لمبو چې رته ښکاري بیا شعلې خورې کړې
تړې هوا لجړ کې را وړل اور په ما باندې را خور شو

د غم ګردې په مخ خور شو چې ستا سترګو کښې نفرت وو
چې ستا سترګو کښې نفرت وو د غم ګردې په مخ خور شو

سترګې ستا سترګې زما وې صرف پرې د وه زړه ونه اګاه وو
دا دنیا څنګه خبر شوه چې په هر ځائے شراو شور شو

نن د مینې ځانګو نشته چې پکښې لبر شان او ده شم
زماني ته د بېر حیران یم دا پکښې الا څنګ دستور شو

زماني د غم په غیبز دې ثواب دا سې ځے لرمے
په ظاهره خو مسلے دے په باطن کښې کرو کور شو

١٢-١٢-٩٠

Pukhto.Net



# زار شمه وطنه

بوټين د ځينې خيژي ستا د ښکلو چينو نه
زار شمه وطنه ستا د دنګلو دنګلو غرونو نه

تا کښې چه هر خاښت دے دا به زر و لواړ شونه کړي
ته چې آباد نه ئې دغه زړه نه بيا ويرونه کړي
ستا د ترقي د پاره د ټول خلق فکرونه کړي

ليږد ولاړ دي مخلوق راځي د نورو وطنونو نه
زار شمه وطنه ستا د دنګلو دنګلو غرونو نه

ستا په دنګلو غرونو کښې د ژوند خوار خيزونه دي
هم دي په سينه کښې هر زاړه زاړه يادونه دي
تا مقره کوقد کښې خوار د کمړي بهارونه دي

ستا هره وادي ده ډکه د هرو حکمتونو نه
زار شمه وطنه ستا د دنګلو دنګلو غرونو نه

ته زمونږ وطن ئې ستا خدمت به مونږ ويښ زړه کړو
هم به د دښمن پښې دي هره کوشه پېره کړو
مونږه غيرتيان يو دا جهنډا به دې تل بره کړو

هيڅ به چرته وانه وړو مونږ ستا د خدمتونو نه
زار شمه وطنه ستا د دنګلو دنګلو غرونو نه

Pukhto.Net



داسې فصل نشته چې په دې ځمکه کښې نه کیږي
داخو سره زر خاوره ده په دې کښې څه پرهر څه کیږي
څه چې پکښې کیږي لږ به دي موږ ګزاره کیږي

موږ ته بنا ښایسته ښکاري ته د مېړو ښه ملګو نو ته
زار شمه وطنه ستا د ننګو ننګو غرو ونو ته

دې پرازو نه پټې ستا د سینې اغیار لیدې نشي
ستا د حیا شال زانه څیرې هم څوک وړې نشي
موږ چې یو نو تا ته څوک په بد نظر کتې نشي

موږ ته دي دا ننګلي ستا د چاپېره د سرو ونو ته
زار شمه وطنه ستا د ننګو ننګو غرو ونو ته

ځانونه د وطن ځو موږ لعلونه دي لعلونه دي
څه له د اغیار ورته په زړه کښې ارمانونه دي
موږ نه په غیرت د اغیار نیولي قدمونه دي

ربه! ته په امان کړې دا وطن د ضرسیو نو ته
زار شمه وطنه ستا د ننګو ننګو غرو نو ته

۹-۶-۹۰

Pukhto.Net

د راحت څادر راخور وے په سپوږمۍ
زړه مې غواړي چې مې کور وے په سپوږمۍ

د زړه سر چې راسره په خوا کښې ناست وے
نه مې دوست نه مې څوک رور وے په سپوږمۍ

چې حسد، بغض، کینې نه خبر نه وے
چې مخلوق داسې څوک لوړ وے په سپوږمۍ

په دنیا ستم د حُسن ګچوګولے سم م
د ستم جام چې لښکور وے په سپوږمۍ

زړه صفا به وو، نیتونه به بیا سپین وے
د غرور مخونه تور وے په سپوږمۍ

طوفانونه، زلزلې، حادثې نه وے
د ژوندون باغ چې سمسور وے په سپوږمۍ

لږ ثواب به د ژوندون په خوږ ویوئ شي
تل غمونه چې شمکور وے په سپوږمۍ

۳-۵-۹۹
بټ خیله

Pukhto.Net



ذه يې د شونډو تبسم وي
تصور لښې بدې هم وي

دا په قهار راته لېږيا وي
ذه ولاړ ورته ګم سم وي

که شعور يې مفلوج نه وي
ورته ياد به زما نوم وي

د جانان چې خوښېدلې
ذه يو داسې ترنم وي

تل اشنا مې ښکلولې
ګناهګار نه وې معصوم وي

چې په ښکلو تل ورتللې
داسې ذه باد نسيم وي

شپه د ژمي وي دوه زړونه
هم د ميو يو ډک خم وي

چې بل چا وفا غوښتلې
ذه ثواب ورته هم برشوم وي

٢٢-١٢-٩٠

# دَ دېره ګیلا

زۀ په خپله نه راځم
تا سو ماله دعوت راکړی
دا وختونه ستمونه
پرهرونه دي زخمونه
دا خو ستا سو پیداوار دے
زه ئې راشمه تپوس له
راله غاړه غتي راشي
پرهرونه راته وائي
دا زخمونه راته وائي
قاتلان يو قاتلان مونږ
وژنو قومره بےلسان مونږ
ناست يو څه وکړو حیران مونږ
يو په خپلو کړو پښيمان مونږ
مونږ مجبور يو داسې کيږي
مونږ مجبور يو داسې کيږي
مونږ دَ مينې قتل وکړو
مونږ دَ زړه ولولو قتل وکړو
مونږ وران کړي بالنګلونه
نفرت او خوري غورزنګلونه
سورخي واخلو دَ رخسار نه
خلق پرېباسو ګفتار نه

مونږ ګرو ډېر کړو صورتونه
نه کړې بیا محبتونه
پکښې بیت هم پاتې نشي
مروت هم پاتې نشي
څه راحت هم پاتې نشي
څه همت هم پاتې نشي
مونږ مجبور یو داسې کیږي
مونږ مجبور یو داسې کیږي
زه د دوی سره شریک شم
ورته وایم فکر مه کړه
ستا سو راز به زه ښکاره کړم
بیا
هغوئ پوئ شو او کارئ
زه
ئې راز ورته ښکاره کړم
تا سو هم ورله غم وکړئ
زما دا د خبر کارونه
دا له جوړ کړې پیغورونه
راز که نه وي ښکاره شوي
پر هغه بر جوړ کړئ کورونه
ژوند په مینه تا سو تېر کړئ
د کینه او بغض هېر کړئ
پر هغو نه به خود تښتي

Pukhto.Net



خوښئ کله هغه سخته

خلق وائی

چا

په خیله

ګیلا

څله کړي د بله

څوک مست شوي په دولت دي

څوک ګیر کړي محبت دي

څوک مئین په قد قامت دي

څوک په طمعه د عزت دي

څوک خوړلي تل خپل نیت دي

څوک صورت ته ملامت دي

نو

ګیلا د دې پره نه مه کړې

دا چې څه دي حقیقت دي

دا چې څه دي حقیقت دي

دې ښینم وچې وهلي

کله ځائے له دې راغلي

خو د

زخمونه به جوړیږي

پرهرونه زړ غوړیږي

روغ روغ زړونه به ماتیږي

Pukhto.Net



عزتونه صیراتیږي
د نفرت اور نه سړیږي
د نفر خُله نه صمیږي
د غم ګرد به ړادویږي
نظرونه به ټړیږي
سره صخونه به فیړیږي
نم به غم ته بیا ودیږي
د هجران غیږ کښې سوزیږي
دې خرڅون هرڅه خرڅیږي
بې ګناه وینې تویږي
سین دا وښکو به بهیږي
دا حالات چې نه وړیږي
نو
ګیلا د دهماد نه څه کړې
دهماد پیرهر نه به زاریږي
دهماد پیرهر نه به زاریږي

۹-۷-۹۷

Pukhto.Net



راز ښکاره به شي پرهيز د قال و قيل دے
د زړه نور ښنې مې ډېره دے له څو بېل دے

ته د شک په تال تالي خورې څه د ياره
ذبحا ځان درته تيار سم اسماعيلؑ دے

ستا د مينې دلاسه ورله پکار ده
دحاشوم په شان زړګے مې تن په ذيل دے

سپيلنو غونډې په اور کښې په ټوټو نو
له فکرونو ته ولاړ په مې عزرائيلؑ دے

هسې نه حيا ګيا شي ستا د حُسن
چې اغوستے دې په ژمي نرے ويل دے

رنګ د حيا مې تخنوي د سترګو ګاتې
خنګ به يې ګورم له قرآن پروت په داحيل دے

کاکاخيل وي ماماخيل يا نور خيلونه
خو تواب هم څه ورک نه دے اباخيل دے

٢٥-٣-٩٩

Pukhto.Net



پرون په سترګو کښې خندا نن د بیلتون خبرې
چې تېر شي هېر شي خو یادوم زه د پرون خبرې

چې خوشبویي ئې زما ذهن کړو تر او تازه
نن د یادونو هوا راوړې دي د ګلګون خبرې

هغه د زخمونو او د داغونو نور الیبړې شبه نکړې
چې به دوائي ئې په ضبرو خوړې سمون خبرې

وخت د ځوانۍ به دې شي تېر بیا به دې جشن نه وي
هر څه دې څه شول په یاد به ره د قامرون خبرې

تا د چېل زړه په آئینه سپړ ره لیدلې نه یم
ځکه په تا باندې اثر کړې د لمسون خبرې

ورله ماشوم احساس نل چیرې په ژړو رغولو
توا به ولې بیا کومې کړې د ونغتون ضبرې

۲۲ - ۲ - ۱۹۹۹

Pukhto.Net



# سندره

داچې شمع شم را اتلو کیدلي په پټو کښې
مستي شوه جینکو کښې
ځوانان خفه کوینه

جونه پټو کښې کړي سېلونه ، سندرې وائي
زلفې یې ښکاري ولونه ولونه ، سندرې وائي

هسې په قس ملګان ستائي په لغمو کښې
مستي شوه جینکو کښې
ځوانان خفه کوینه

دلبرې لبرې نه خندا کړي ، په مینه مینه
هم رنګ په رنګ نازو ادا کړي ، په مینه مینه

چې ورنزدې شم تو څخ بیت کړي په سالو کښې
مستي شوه جینکو کښې
ځوانان خفه کوینه

خوار ورکړل تا تیا لسته رنګونه ، سیرلیه زار شم
دینن کړي تادې اوده زړونه ، سیرلیه زار شم

نواب خو هسې کړوي یار په کوځو کښې
مستي شوه جینکو کښې
ځوانان خفه کوینه

۲۲-۱-۹۲

Pukhto.Net



غیږ کښې د ښکلو چې مې را لګېږه شي
هېره به شي خندل به را نه هېره شي

ته د زړه پولې مې په چاودو شي بیا
را شي ځما منځ او په خندل تېره شي

ټوله دنیا دغه سبق وائي به
ستا د منځ کتاب چې را برخېره شي

ځان چې د نفرت څادر کښې نغاړې تل
دام کښې به د مینې چېرته کېږه شي

یو ځل لوی ښتر ټوله ربې ورکړ دلو
هله به ثواب خبر د سېره شي

٨ - ١ - ٩٧
الریاض سعودي عرب

Pukhto.Net



○

زړه دونه لټول دَ دنیا پټ اوساته
دریاب دَ اوښکو ته زړه غټ اوساته

لږ وو که څه بر د ساعروې وخت تیر کړې
دَ بې وفا اشنا عزت اوساته

نن دې خفګان صبا به بیا یو شو مونږ
یادونه لټولې ئې امانت اوساته

مینه کښې نه وي غصه خوندونه
ځان ګوره تل دَ دې عادت اوساته

خبر که اشنا شته ې نااشنا کړې خلقو
نو آبه ته قدر دَ پټ اوساته

۹-۵-۹۰

Pukhto.Net



# یووالے

چې سړے د سړي رور نشته
هم یووالے په یو کور نشته

دا تیاره بیا رڼا کیږي منه
خو ګله نن د شعور شور نشته

۳۰-۷-۹۰

# خواهشونه

خواهشونه په سینه کښې چې مې ډیر شته
بې وسې د زړه ګوټې مې پیښې تیر شته

خواهشونو هسې مه رازرغونیږئ
یقین نشته چې به ستاسو څیر تدبیر شته

۲۵-۱۲-۹۰

Pukhto.Net



حُسن ښکاره کیږي په هر دَر کښې ځینې
څنګه به اوکړي څوک په نمر کښې ځینې

اوښکلو په مخ مې داسې وکیږې ځانې
دلته اوبه چې کیږي په غَر کښې ځینې

محفلونو کې هم زه په څه پوهه نه کیږم
لوري ښکاره دي کیږي نظر کښې ځینې

پولې دَ غم مې زړه نه تاوُرا تاوشوې
اوس یې شور وکیږي په ځیګر کښې ځینې

ګرد و غبار دَ نفرتونو هیڅ پرې دے
ولې دَ خپو ګورمې سفر کښې ځینې

اوس راته وائي چې خبر نه شي څوک
چې شوې ښکاره په لر او بر کښې ځینې

خلق رقيب نه تپوسونه کوي
وي به يې د لاسو په خنجر کښې نخښې

ورته چې هر چا ته بولې اشنا
خو د به جوړې پرې يې ستا په ورا کښې نخښې

نن نعمتونو ته ثواب تکيره شه
چې دې نښکاره شوې په بستر کښې نخښې

۱۴-۶-۹۲
اسلام آباد

Pukhto.Net



# د شعور شور

بیا د هر چا یکښې جوړ اوچت مقام شي
د شعور په شور بدل چې کوم نظام شي

هر انسان کښې خو شعور وي تر آبده
خو چې خرڅ کړي څوک شعور هغه بدنام شي

شي میلاو که وسائل د ژوند هر چا ته
نه به چرته یو بنده د بل غلام شي

ترقي د اسې اولس ته کول ګران وي
خودغرضه چې د کوم اولس امام شي

چې د روح خوشحالي نه وي خپل وطن کښې
په کوڅو کښې غیرتونه بیا نیلام شي

تکلیفونه به ژوندون کښې ورته ډېر وي
چې د کومو خلقو ګېډه په حرام شي

Pukhto.Net



چاچې نورو ته دا مونږ خواره کړي
داسې خلق په آخر کښې ګیر په دام شي

کامیابي دوا ړه جهانه کښې به مومي
خُدائي خدمت چې تل د چا مرام شي

خوارې کښې چې محنت کړي خوله تړي اوګټي
د خوارانو دا خوله نورو له جام شي

په ثوابه! ښه عمل د لارې حل دے
چې عمل چا صحیح نکړو خوار مدام شي

۱۹-۵-۹۰

دا زه څه یم د ځان بوج ته ټینګ نه یم
ستا د حُسن د احسان بوج ته ټینګ نه یم

د خفګان په سود او زیان دې پوهه نه کړم
بس دې بس دې د خفګان بوج ته ټینګ نه یم

خوشبويي، رنګونه هم ښائست ترې وليسي
ازغے نه یم د خزان بوج ته ټینګ نه یم

بیا وریځ د ستمونو په نظر شوه
زه د اوښکو د باران بوج ته ټینګ نه یم

کائنات د زړه زما شو دړې وړې
د دې درنو د طوفان بوج ته ټینګ نه یم

ستا لوڅه کښې مې ګریوان ریښې ریښې شو
د رازونو د تالان بوج ته ټینګ نه یم

11-3-99

Pukhto.Net



دغه شان به وي دا نمر به بل خوا لښي
د ځکرو نوجوړ سنګر به بل خوا لښي

ورته څو ميره د نفرت تېمان له کېدي
وا د مينې سمندر به بل خوا لښي

ستا د ياره خو زما هر څه قبول دي
د وا پيري ندرې سر به بل خوا لښي

رنګينې که په هر خوا لښي پروا نشته
ستا د اړې نه نظر به بل خوا لښي

مخامخ ورته څه ځائې د ديدن نشته
ياره! ستا د کور دا ور به بل خوا لښي؟

ته د خپل لوظونو پېرې لږ را ټينګ کړه
د نقاب د لوظ غر به بل خوا لښي

۲۸-۶-۹۹

Pukhto.Net



# لیونۍ پیغله

دا چې راغله دې دنیا ته
مور او پلار یې ځمبر خفه شو
دوی وو
ژوړے وو چې لوړ نه وو
بیا به نه وي بیا به نه وي
دا د ګل غوټۍ ماشومه
د دنیا نه ناخبره
د دنیا نه ناخبره
چې به کله ژړېدله
نو معصوم معصوم کتل به یې
مور به یې خواله نه ورتلله
داسې ټوله شپه ژړل به یې
چې به کله په خندا شوه
دې خنداګانې به سرور وو
رنګینۍ وې د جهان دا
د قدرت دې شان ته ګوره
چې د مور پلار مینه یې نه وه
خو بیا هم د ګل غوټۍ وه
خورېدلهٔ
خورېدلهٔ

Pukhto.Net



اوس
خیالونه یې شروع کړي
بیا
رو رو په ګرځیدو شوه
د خارو په شان یې تله وو
په وړو وړو ګامونو
په کوڅو ته دا وتله
د دنیا نه ناخبره
د دنیا نه ناخبره
په ډېر لږ عمر لوین شوه
دا د لسو بچو پلار ته
دې نه چا تپوس ونکړو
دا په هیڅ نه پوهیدله
دا په هیڅ نه پوهیدله
دا چې پوهه په سنه بد شوه
نو
افسوس ورله ډېر راغے
چې د سر سودا یې وکړه
د عزت سودا ګرانو
خو دې هیڅ نه شو کولے
خو دې هیڅ نه شو کولے
نه یې لوبې د ګمزولو سره اوکړې

دا ځاته ته جوړه نشوه
کوتنې او نه صبرګاتې
ندۍ او کړل پټ پټوني
بس
واده دې تیار شو
خوشحالي وې خنداګانې
هم
په کښې وې ګډاګانې
د جینۍ پلار په ژړا وو
حیا وې
دا ولې سړیه
دا واده خو ستا د لور دے
څه د زوې واده دې نه دے
ده وې چپ شه خلقو چپ شئ
دا یو شرم دے چې اوځي
د دې شرم نه خلاصیږم
ځکه دلته زه ژړیږم
داسې مه وایه انسانه!
نه وي شرم لور رحمت وي
نه وي شرم مور رحمت وي
نه وي شرم خور رحمت وي
د مور پښو لاندې جنت دے
دې کلام ته فکر وکړه

Pukhto.Net



لوړ ساتنه خو عزت دے
دې مقام ته فکر وکړه
د دې هر څه به محروم شو
فکر ښه دے فکر ښه دے
خبر خبره مې اوګله کړه
خو واده د جینۍ او شو
او دې هیڅ نشو کولے
او دې هیڅ نشو کولے
دې جینۍ وې زه به ژاړم
دې جینۍ وې زه به تښتم
دې جینۍ وې ځان به کړم
که څه کړي دې جینۍ وے
لو د پلار به ره شمله به یې
اوس

په خاورو کښې پرته دې
د خاوند کور ته چې لاړه
وې دا کور د دې جنت وي
که جنت نه وي دوزخ وي
پکښې ژوند چې د ذلت وي
دې د صبر څښتلې
دې خو هیڅ نه دې ویلي
دې خو هیڅ نه دې ویلي

Pukhto.Net



نا کمړو دَ دنیا داسي
داغو ته مي وریجوله
لیوني شوه لیوني شوه
پلار دَ کور ته را اوړي
خو
خښتن هم وشرماوله
که
خښتن شرمولي نه وي
لو
په خپله هم وتله
په کوڅو هم بازارو لوګښي اوس ګرځي
لو پته ئې په سر نه وي
بېسروي دي بېوسي
نیا لبي ښیي او سر ئې تور سروي
تک دَ دي او تراو تر وي
یو دَ بل نه اوس تپوس کړي
چې دا څوک ده او دا څوک ده
اے النسانه!
پېغله لوړ ستا
په کوڅو ګښي داسي ګرځي
دا قصور دے ستا په خپله
دا قصور دَ دي سماج دے
دا دَ حسن بېنا پېرې او س
دَ دنیا نه نا خبره
دَ دنیا نه نا خبره

۲۲-۶-۹۱

Pukhto.Net



په تو څه که ستا د ښپو خاپونه نه وے
په هر خوا کښې به خواره بخښونه نه وے

چا به لاس زما ګریوان له وو راوړے
شا د زړه د کور که بند ورونه نه وے

ځم پر ژور به پر هر ونه رسیدل بیا
تماشې ته که ئې ناست دردونه نه وے

پېژندنه به د یو بل وه بیا ګرانه
په دنیا کښې له رنګ رنګ قومونه نه وے

بیا د مینې سمندر به په غورځنګ وو
که په مینځ کښې د نفرت بندونه نه وے

وه تیاره به د احساس په کائنات کښې
د ښکلا که رابنګاره رنګونه نه وے

څنګ به ذهن زما داسې منتشر وو
که لیدلي ئې د خا زنازونه نه وے

لیونے به ګرځېدم د ژوند په لاره
که آباد مې ستا په یاد دغلونه نه وے

۲۶-۳-۹۶

Pukhto.Net



چې برګه راخواره د ستم سیوري شي
څنګه ارادې به زما لنوړي شي

هو بز چې یې خوب سیوري ته کړې نشو
څو که هر څو ستا زلفې سمسوري شي

هر وخت په هر وړنه ولیښوې چې مې
سترګې د درد په دولوړې شمکوري شي

ستا دیدن باران چې پرې ولوړي
ګله به روښانه د بخت ستوري شي

رنګ چې د ګلاب نه غیږ چاپیره کړي
ښه ده خوشبوۍ له بیا نږه توري شي

تا په نیمه لاره کښې چې پرېښودو
تګ به د تګاب اوس په توم لوري شي

۶-۷-۹۷

# سندره

څوک به مو ویني زه به ور ولاړه یمه
اشنا زړه، زړه شه ویدن اوکړه درنه ځمه

پېغور د کلي راته جوړېږي
زړه مې لټاند، نه صبرېږي
ستا یمه ستا یم که هرڅه کیږي
ملک د پښتنو دې په خطر ولاړه یمه
اشنا زړه، زړه شه ویدن اوکړه درنه ځمه

داغ که په مونږ، د بدنامۍ شي
مینه به هله، مونږ سیالۍ شي
یادې قیصې، به پخوانۍ شي
لېزان مې دې د نیپو په سر ولاړه یمه
اشنا زړه، زړه شه ویدن اوکړه درنه ځمه

ظالم وختونو لېښي ویدن ګران دي
سخت وخت مو نیږ هم نیولي ځان دي
مونږ چپا دتې هسې هغه نادان دي
زه خو د مینې په سنګر ولاړه یمه
اشنا زړه، زړه شه ویدن اوکړه درنه ځمه

ما ته به شمه یم تنکۍ لخته
راوتې زه یمه، یاره بې وخته
هم وند مې به پیر بیږ ده هم ښتونا وخته
رنګ به مې تور شي زه په لمر ولاړه یمه
اشنا زړه، زړه شه ویدن اوکړه درنه ځمه

۱۲-۵-۹۳
الریاض
سعودي عرب

Pukhto.Net

Pukhto.Net



حاله دې راګېره د غمونو دنيا
رنګين مې نشوه د خوبونو دنيا

څوک د ګلونو د ليدو په ارمان
ازغوله ورکېږي د ګلونو دنيا

د خوشحال سپېرلي دې وي په ګلو
پکار مونه ده د بهارونو دنيا

بوئيں د بارود خوشبويه ورلې ګړي
خو به ورانيږي په جنګونو دنيا

شوه د غم دوړه په زړګونو خوره
سپېره سپېره شوه د رنګونو دنيا

فطرت نفرت له شکايت له لاړو
نفرت بدنام کړه د عيبونو دنيا

کوم کوم ګناه نه به په ډډه شمه
خو رکېږي خادر د ګناهونو دنيا

ستړي نوا مونږ زړه ته ولې راوړئ
ورانه به شي د ارمانونو دنيا

مینې په قدر د ځینو پوهیږي
ځان دې مشغول کړي په لټونو دنیا

اوبه د سر نه اوس اوښتي ښکاري
ځکه راخستي سیلابونو دنیا

ملا ځانه هم کابل راګیر کا شا به
شاخوخوا ښیږي د شرونو دنیا

چې یوم ځائے اور وي لوګي خو به وي
خبر له کړو ځائے د قیمتونو دنیا

خلق خبر شو د هر څه نه مله
چې راښکاره کړه قلمونو دنیا

چا لا دنیا ګڼي د دنیا خوندونه
بس ما تواب له د دردونو دنیا؟

کمړه -

۲۰-۳-۱۹۹۹

Pukhto.Net



# خیراتي

لکه میرو لښې چې پوتره ګرځي
دا په وانو پسې اوتره ګرځي

مو تېې دانې پټې کښې فیاتې کړه
چې دا غریبه بې خطره ګرځي

۲۲-۱-۹۰

# انتظار

خلقو ورکېږي دے قاصد لره جواب
چې په سینه کښې ګناه دے که ثواب

انتظار ور پورې سمې پتوقې اوکړي
ځکه در په دهلې ګرځي نن ثواب

۹-۳-۹۰

Pukhto.Net



دَ زړه باغ باندې مې اوشوله ځلې هسې
ستونه مې دَ ښپو شو ژولنې هسې

تل تعل چې دَ ښکلا به ما کولو
دا ښکلا دَ زړه کور ونه تل ورانئ هسې

ما خونه وې چې دا ځل به لا هم ریږي
ترمې ترهې کړما لو دا دَ غم سیلۍ هسې

په دنیا کښې دا رواج هر چا خوښ کړې
چې دوه زړه نه به دَ یو بل نه بیلئ هسې

که په ځانه وې تۀ ولې پرې والښتۀ
هر یو ځانته بد قبول کړم په ټالې هسې

ارمانونه چې په زړه کښې په سلګو دي
څنګه ژبه ئې راته ښکاره کړمې دَ سلګۍ هسې

څوک چې ما ته لیونے وئ خبر نه دي
خبر نه دي ستا دَ سترګو مستۍ هسې

دَ ظلمونو انتقام په ثواب او شوه
یو صد نشو دَ ژوندون په خوشالۍ هسې

۹۰-۷-۲۴

Pukhto.Net



# خرڅون

کړي هر څوک چې په وبر د غه ويرونه نن خرڅيږي
ذهنونه شو مفلوج چې ضميرونه نن خرڅيږي

د داسې قام اولس ولې د ګټې پسې ګرځي
بلکښې چې د شعور جوړ تعميرونه نن خرڅيږي

تحرير خو د قام سترګې وي دا سترګې به ړندې شي
د ټول قام په ښکاره چې تحريرونه نن خرڅيږي

تقدير کښې چې څه ليکل وي هغه کيږي په دنيا کښې
دا ولې په دنيا کښې تقديرونه نن خرڅيږي

خزان که په چمن شولو په وينو به ئې بهار کړو
خو څنګ به ئې بهار کړو چې سرونه نن خرڅيږي

د خپل وطن د پاره تدبيرونو کښې خو پروت ئې
نو آبه ځان ساته دا تدبيرونه نن خرڅيږي

۷-۶-۹۰

Pukhto.Net



زهٔ يې خوا کښې ناست ووم غلې تورۀ شپه وه
يار مې خواله وو را غلې تورۀ شپه وه

بس د مينې سمندر کښې زهٔ ونه ډوب وو
خبر نه وو ترينه ځلې تورۀ شپه وه

دې وې ځم خوما وو اس ورله نيولې
ما وو لاس ورله نيولې تورۀ شپه وه

وو دېدن مې په تياره کښې نصيب شوے
څنګ دنيا به زهٔ ر تلې تورۀ شپه وه

د سينې سره مې جوخ وو يار نيولے
نور مې هيڅ نشو نولے تورۀ شپه وه

داسې وخت مې په تو آب باندې راغلې
وو د نور ځلې و تلې تورۀ شپه وه

۳۱ - ۴ - ۹۱

Pukhto.Net



هر خوا د نفرت شو دیوالونه جوړ
داځکه شو دنیا کښې دستورونه جوړ

زه خو د منصور نه څه کم نه یم
یو دار نه که هر هر شي دارونه جوړ

نشته چې مې یار د زړه په حلې کښې
زه پرې څه کووم که دي ښارونه جوړ

زه خو په جونګړه کښې خوشحاله یم
دي که په دنیا کښې محلونه جوړ

ستن چې مې د فکر راغوره یې تل
لیکن مې دي قسمت کښې تندونه جوړ

ګرځي په دریاب لاچار ابدلې دي
څومره راته شي که بېغورونه جوړ

ژړه چې دي د ښکلونه صبر یې نه
فلابه شي تقابه ستانځونه جوړ

۲۵ - ۴ - ۹۳
الریاض سعودی عرب

Pukhto.Net



# منزل تهٔ منزل

خپل قسمت ته چې ګویا شوم
نو
قسمت راته مسکے شو
ما ته وائي چې دا څه کړې
هر وخت ما نه چې ګیلا کړې
دا چې څه نوے سبق نه کړې
پاسه پاسه حرکت وکړه
ورسره لګ غیرت وکړه
نو
ژوندون به دې بیا جوړوي
د غمې اور به دې سوړوي
که زمانه نوے طمع
ژوند به ستا نه شي بې غمه
ارادې دې کړه د غر شان
ولې هسې یې اوتر شان
ستا وړوکے شان وجود دے
دا لوئي غر په تې نوے شي
ستا څه لګ شانې ځا زغه دي
خو دنیا راځائیے نوے شي

Pukhto.Net



ته شګوفه نه يې مه کېږه
ته وږمه نه يې مه نېږه

دې نه هيڅ هم نه جوړيږي

بس
منزل ته منزل وګرځه

بلخېر
ما نه څه چل وکړه
که زما په ځمکه ګرځې
داسې خوار به مدام ګرځې

زه
قسمت مخوږ نه تښتم
چې ما ګوري ځان نه ګوري
چې ځان او پيټی نه ملګه

نو
ډونډون به دې بيا جوړ وي
دَ غوڅې اور به دې سوړ وي

۲۲-۳-۱۹۹۱

Pukhto.Net



زړه مې د درد سره بوبېږي بې وسې دا ستا د لاسه
هر ارمان زما قتلېږي بې وسې دا ستا د لاسه

زه وېم داسې به وېم داسې خوځې یار ته مخامخ شم
ټول وجود زما رپېږي بې وسې دا ستا د لاسه

ژوند به ټول مې ستا سره وي، دا ئې لوظ ما سره وو
ما نه لرې چې اوسېږې بې وسې دا ستا د لاسه

په باطن پرهر پرهر یم څوک مې حاله نه خبرېږي
څوک مې حاله نه خبرېږي بې وسې دا ستا د لاسه

ماله مخ نه له چې راشې تور پړونی کښې مخ پټ کړې
چې په ورځ تیاره خورېږي بې وسې دا ستا د لاسه

ما ته تل ئې ځپک کتلي، زړه ئې ځپل نه یم کړمه لې
زما سترګې پرې خوړېږي بې وسې دا ستا د لاسه

Pukhto.Net



د زړه سره مې خواله راشي بیا ذره وائي بس دے څه
د زړه سره ته حصاریږي به وس د ستا د لاسه

فکر الهام شي بند د بېرلري ستړے ستړے شي به څه
خو منزل تد ته رسیږي به وس د ستا د لاسه

دلته زه د اور په غیږ د لمبو بلېتون ستي ستي کړم
یار مې هلته لمبو سوزیږي به وس د ستا د لاسه

څوک خوشحاله خوشحالي کړي د دنیا په رنګینو
تل تواب هسې کړیږي به وس د ستا د لاسه

١٧-٨-٩١

Pukhto.Net



خوږ که په مخ باندې نقاب کړې زه دې پېژنمه
ما په پېر دوانبې له حساب کړې زه دې پېژنمه

ګله تازه ئې په مسکا ګله غمژنه مړاوې
داخوښبيني ته د ګلاب کړې زه دې پېژنمه

ستا به لوظې به ما حرام کړل د ژوندون خوبونه
اوس چې د بل په څنګل خواب کړې زه دې پېژنمه

شئ که دې ياد درته جانانه هغه تېر وختونه
بيا ننداره به د مهتاب کړې زه دې پېژنمه

تا چې غم راکړو نو سيلاب د اوښکو جوړې به دې اوس
څنګه به بند د غه سيلاب کړې زه دې پېژنمه

ظالم سماج چې د بېلتون کړ سنبې نصيب کړې زمونږ
چېرته به ياد ته ما ثواب کړې زه دې پېژنمه

د صبر په سوال چېرته ما نه چې و نکړې اشنا
له مې زړه ئې کباب کړې زه دې پېژنمه

۲-۷-۹۱

Pukhto.Net



# سندره

دَ چا بېلتون کښې لږ سعت تېر کله کال شي
خبر دې کلي وال شي

زه کلي ته روان يم

پير ته وي ياد کښې ځي پير کاله لنه
ورک شه رالښتې پشکاله کته

ځکه زه ځم هسې نه وران دَ زړني خال شي
خبر دې کلي وال شي

زه کلي ته روان يم

راغلي دمه بېر قرحا لګښونه دَ دې
يو غم مې خپل نفر دي غمونه دَ دې

ورله به ورمه که په سرڅو باندې شال شي
خبر دې کلي وال شي

زه کلي ته روان يم

دا څو څو کاله تېرې بېر ګرځه
خبر تېرې نه يه او تر ګرځه

څه شک يې نشته له اشنايې بنګلېوال شي
خبر دې کلي وال شي

زه کلي ته روان يم

Pukhto.Net

دا خوشحالي د دوي بيا رونه څه کړم
دلته له مجبوري محلونه څه کړم

په خيل وطن کښې مې خو ښيږي له چوپال سره
خبر دي ځلي وال شي

زه ځي ته روان يم

د تصور تصوير به ئې کړمه رښتيا
دا دروغ نه دي ورله ځه رښتيا

بيابه رانشي له ثواب هلته لنګال سره
خبر دي ځلي وال شي

زه ځي ته روان يم

۹۶-۳-۱۰ الرياض

سعودي عرب

Pukhto.Net



په ما د يار چې ترېخ نظر پرېوځي
خود به مې تندر په ځيګر پرېوځي

ګله بلبل، بورا، ازغو چې يا دکړې
ستا د بنا لذت د بوټين اثر پرېوځي

لږ خو دې سمه کړه د کوځې نه بهر
ما د ربايل کړې زړه بهر پرېوځي

داعلامې را ته د هوس بندکارې
بشر چې بېنپوکښې د بشر پرېوځي

کړس آسماني به صحه بياوې کله
يار چې مې غير ګښې اوتر پرېوځي

ماوې الوت د مينې دي به مدام
الوت کښې ښتا ولې وزر پرېوځي

Pukhto.Net

یار که نن ځي صبا به راشي خبر دے
صبا راخیژي له نن نه پرېوځي

داسې خو موږ ته دي خو وګړه نصيب
د بېلتانه په موږ کمر پرېوځي

داسې خو مه وايه چې ځمه درنه
خوند خو به ئې اوس دي ګوره نه پرېوځي

تو آب چې لاس ورله د حينې ورکړي
د يار د ترخې نه ئې خنجر پرېوځي

۹۱-۷-۰

Pukhto.Net



مابه تاریخ ووېه او بولیکلې
اشنا که ماته په نخره وکتلې

زړګیه بیا هم دې وېړل له بیایم
خبر که یم خلقو په نخرکو وشتلې

ماته نور حکمې د سپرلو خبرې
غمونو یمه د سپرلو وشتلې

څنګ به مې ډوب د مې وسی جېبې کېږې
دې سمندر کښې شم لامبو وهلې

چې ته زرغون بدشې د مينې فصل
دا فصل مونږ دې په کوشو کرلې

اوس به ذهنو کښې ادب پیداشي
ما صباؤن په سرو تغو لیکلې

توآب صفا صف ضمیری کوی
ځکه دې حیلو [illegible] شهرلې

۳-۵-۹۰

Pukhto.Net



# نصیحت

سم شه ته په خپله چې دې نور شي سم خواره
بیا به خوند نوي له چا ته بنې ته نیغه لاره

ته وې چې دنیا کښې میم زر ځانته ټول زما وې
خیټه اچولې هم د بل حق باندې ما وې

حق د غریب مه خوره د څغور ده دغه چاره
بیا به خوند نوي له چا ته بنې ته نیغه لاره

خوک په دې دنیا کښې د اکبر کمرې غریبې دي
چا ته جوړې شوې لا په کور کښې ترګلنې دي

د اصلي حل کړه هسې مه کینه بې کاره
بیا به خوند نوي له چا ته بنې ته نیغه لاره

غلا ده که دوکه که رشوت ستا پرې ایمان دې
دې غلط کارو لوټه دې خلق ټول حیران دې

د کاروینه پرېږده ځان نه جوړ کړه بنه دینداره
بیا به خوند نوي له چا ته بنې ته نیغه لاره

د علم څېړه بله کړه په دې لاره په دنیا کښې
بیا به محبت ولته پیدا شي په هر چا کښې

Pukhto.Net



بیا به ورشم د جانان په کلي
خزان مې راغې د ارمان په کلي

په چغو چغو مې دردونه د تن
رب دې څوک راولې درمان په کلي

راته احساس اوشو چې لا ړمه تري
تېرېدو ډېر سبا وو دوران په کلي

چې په یو وخت یلغنې شي او ورې ژمې
مدام به وي د غم باران په کلي

خلقو اشنا ستړي نا اشنا کړې اشنا
وراغلم ډېر شومه حېران په کلي

داځکه چې اوشو ستا د لاسه اوشو
نقاب وېران خلق ودان په کلي

۹۴ - ۱۲ - ۱۸

الریاض سعودي عرب

Pukhto.Net



مئین چې نشي نو تورزن به څه وي
روح چې ترې اوځي نو تش تن به څه وي

تن ئې په زلفو کښې ګلونه ایښي
خزان له داغې نو چمن به څه وي

مالګې چې راشے منځ دې مه پېتوه
چې شي په پټه نو دیدن به څه وي

د جانان سترګې چې مې نه وي پکښې
اور دې پېرې لګي دا ارسن[1] به څه وي

توابه دا دې په ځان څه کړې دي
مینه چې کمې نو بیا جشن[2] به څه وي

۲۸ - ۱ - ۹۱

(۱ - محفل ۲ - کم همت)

Pukhto.Net



# تیر وخت

سبہ ڈوندون وو
تیر یدلو
زہ دَ څہ نہ خبر نہ ووم
زہ دَ څہ نہ خبر نہ ووم
څہ ارمان مې پہ زړہ نہ وو
کہ هر څوک راتہ قهر شوې
زہ یم ګډ شان خفہ شوې
بیا یم ورتہ رضاء شوې
چا لہ ګلہ مینہ کړې
زہ یم هم بیر خوشحالہ شوې
ورتہ غلے خندیدلے
نہ چا موښي یم څیدلے
پہ کوڅو کښې ګرځیدمہ
ګلہ ګلہ ژړیدمہ
دا ژړا دَ خفګان نہ وہ
دا ژړا دَ ارمان نہ وہ
دا ژړا دَ هجران نہ وہ
دا خو ژړا دَ ګلان نہ وہ
زہ
ما شوم ووم

Pukhto.Net



هم
معصوم ووم
زه د څه نه خبر نه ووم
زه د څه نه خبر نه ووم
دا خوزه د ګل غوټۍ ووم
په رورو به غوړېدمه
چې زه پوهه په ښه بد شوم
په دریاب د ژوند ورګډ شوم
دې دریاب یم ژړولے
هم ئې څه تېر یم کړولے
زه د خلقو د خندا شوم
هم وېزاره د دنیا شوم
خپل پردو یمه شړلے
هم دوستانو یم رټلے
خپل هم چا نه یم ګڼلے
خو
ما تل ځان دے خندولے
ما تل ځان دے خندولے

هغه
تېر وخت مې وا یاد شي
صرف
په یاد مې زړګے ښاد شي
تېر وخت بیا نه دے راغلے
تېر وخت بیا نه دے راغلے

۲-۵-۹۰

Pukhto.Net



چې نظر چې ستا نخرو ته غاړه وځي
ذره مې سختو مرحلو ته غاړه وځي

بد به یاد شي څوک چې بل ته ځیل ځانته کړي
د تاریخ پاڼې قصو ته غاړه وځي

قصور وار نه یم نو څنګه به قبول شي
هر وخت خُله چې دې خیرو ته غاړه وځي

چې د غم سیلاب ورځ به ما خوره کړه
جوړ ضمیر دې نامردو ته غاړه وځي

چې دنیا د وس تیارو کښې ترې شي بیته
ارمانونه اسویلو ته غاړه وځي

ډېر غمژن دے خو ملګرو! تواب بیا یم
د وختو نو فیصلو ته غاړه وځي

1-10-1991

Pukhto.Net

مینه چې نه کوې اشنا څه خبر
د زړه د حال دې دنیا څه خبر

ربیاره زه خوځې بوظونو تنګ کړم
راوړے تا دے جوړښ بیا څه خبر

زه د وخانه کله تښتم خلقو
ګورۍ دا ښځلي د وفا څه خبر

خپله کوڅه ښيې یې رتلے یم تل
رخستے نه مې دے لا چا څه خبر

دا سې غرور نن په خپل حسن مه کړه
نن خو به تېر شي خو صبا څه خبر

دا د غماز د وسوسو دلاسه
ګنې جانان مې د جفا څه خبر

د زړه په باغ چې ئې خزان راغلے
دغه تو آب دے د مسا څه خبر

۲۴-۱-۹۰

Pukhto.Net



# سندره

غمژن غونډۍ ماښام دې یار مې سترګو کښې غمیږي
زړګي زما درزیږي

اشنا وطن ته راشه

دیدن ماښام کښې کړي خوندونه ، زړګیه راشه
په مینه ډکه ویډلونه ، زړګیه راشه

کله نه هم راتلو دې په مینه کښې کیږي
زړګي زما درزیږي

اشنا وطن ته راشه

له ته رانغلې زما یاره ، ژوندون به څه وي
یواځې څه له په لاره ، ژوندون به څه وي

په طمعه د راتلو راتلو زما وجود سوزیږي
زړګي زما درزیږي

اشنا وطن ته راشه

د دنیا ګنی آرام به څه کړم ، چې یار مې نه وي
واسې د مینې جام به څه کړم ، چې یار مې نه وي

نواب وایي بغیر د مینې ژوندمله تیریږي
زړګي زما درزیږي

اشنا وطن ته راشه

۲۲-۶-۹۰

Pukhto.Net



چرته پوره مې خپل ارمان ونه لید
وريسې ګرځم ما جانان ونه لید

ښکاري چې هر څوک زما شان غم ځپلي
چرته مې خوشې بيابان ونه لید

بورا چې ګل له مخ پېر هر پېر هر ګړو
ځای ازغو کښې اوس درمان ونه لید

چې خوشحالي ئې ټولې ويوړې ما نه
ځای مې د اوښکو جوړ باران ونه لید

په ما خوره تياره روښانه چې کړي
داسې مې مخ د ضيا تابان ونه لید

خلقو تپوس ولې زما نه کوي
تاسو زما څيرې ګريوان ونه لید

د خيال دنيا چې کړي رنګينه زما
چرته مې داسې مهربان ونه لید

ناصح تۀ اب منع کوې د ښکلو
ښکلو کښې ما خو څه نقصان ونه لید

۳-۷-۹۱

Pukhto.Net



# حادثې

طوفانونه زلزلې دي
دا څنګه حادثې دي

لوئ واړه پکښې ترهیږي
هم بې بوره شي کړیږي

د رحمت طوفان ئې هېر کړي
د غربت طوفان ئې ګېر کړي

حادثې له د جهان دي
په نصیب د هر انسان دي

دې لږ ژوند کښې راحت نشته
د بنده هیڅ طاقت نشته

بس طاقت د صمد چا دے
چې مالک د دې دنیا دے

یو مالک د دې دنیا ته
رجوع وکړه په هر چا ته

Pukhto.Net

ته رحیم یې رحم وکړه
ته کریم یې کرم وکړه

ستا د رحم طلبګار یو
ربه ته شرمه به مونږ خوار یو

که محتاج دې کړو بل چا ته
ګناهګار به یو څنګ تا ته

ستا په حلم هر څه کېږي
وران ژوندون زمونږ سمېږي

ستا په درګلېنې به څه کم شي
ورک دنیا نه که هر غم شي

Pukhto.Net



○

دَ یارې په یمای وتمه مرې دې مې
داستا حُسن لا تر او مې په کمائې مې

چې مجنون دې یم نو ورته به اوس څه کړم
هسې خلق تل په ما نمو کله یرې مې

ما دَ یار سره پلنې خم پوسې کړمې
یه بندیانو! دَ دې ځلې مه شرمې مې

نن له نشې دغه ورځ به څرته راشې
خوب اشنا په ځیل دیدن بدا مرې مې

ما دَ نیت په ګتو پوښ دیوال وهلې
څنګه څوک دیوال دَ مینې به نړې مې

چې دَ اوښکو سیلاب وینه تولا یوړه
نو اره څنګه دَ وجود وینه تویې مې

دَ یادو تو زولنې دې ماند تاؤ دې
تل خونبیږې ستا دَ یادو زولنې مې

زه تواب له دَ نظره دې فنا شوم
انکارې چرته کښې نشې دَ یارې دې مې

۹ ۱/۹۱
جنګو دیر

Pukhto.Net

تل د نفرت په صحراګانو ګرځېږم تلو تږه نه وي
مینه چې ذره ولټولښې پیدا شي بیا غونډ نه وي

دا مې عادت شو چې تو ګټولښې به خبر نه یم دا تل
خبر چې نه ګټولښې له اوس تعقد یې نه ونډ نه وي

دی په غم له د بل ذره غمتړن ګټېدلې لږ شان
بیا په هر څه د دنیا ګښې تفر نقونه نه وي

له مې د ذره نور ته راځي هر ځلې وایم در ته
په چېرته هم زما د ذره د نور ورونه نه وي

چې وي د تل د یار په سر دا خوشالي وي زما
دا د دنیا وې عزتونه هیڅ نه ته وي

که د منزل په منزل یار راسره وګرځه منزل
بیا به رنګونه به مې نور څه زما خوږ نه وي

قدر د وخت ګڼاره دے ځکه چې پکښې مینه وکړه
سوچ لږ ګڼاره دے چې مدام به دا وخت نه وي

تو آبه! راحم چې د بل د یاره نوي پکښې
دا ګورے ځانمې وي په هر حال کښې دا تړونه وي

۶-۴-۹۱

Pukhto.Net



# دَ عزت میوه

تهٔ وې دَ چا نهٔ خفهٔ
زهٔ وېم دنیا نهٔ خفهٔ
تهٔ وائې مخه ښکله
زهٔ در ته اووېم ښکله
که در ته وائم رښتیا
تا ته دروغ ښکاریږي
تهٔ هم په خپله وینې
ځان غلے پرے دے تا
خوَ دَ غریب دَلاسه
ژاړي
چې څهٔ چل اوکړو
خوَ دَ دولت دَلاسه
خاندي
چې څهٔ پرې اوکړو
غریب دَ ولږې نه مري
خو چا ته سوال نهٔ کوي
مالدار که هم بېر مالدار شي
دَ رشوت سوال به کوي
کوي دنیاله ګټه
دنیا ده پاتې خلقه
غلط کاروته کوے

Pukhto.Net



## ژاتلو نګلے ژوند غرقوے

رورہ !
لګ فکر وکړه
عزت خوږه میوه ده
خو تا څکلې نه ده
چا چې څکلې ده دا
بیا غورزولې یې نه ده
ګوره
په تا دې سترګې پټې
غړوه سترګې بلې
لګ
په دنیا نظر کړه
بیا
په هرخوا نظر کړه
چې نیغه لار ده کومه
ته یې روان په کومه

۱۵-۲-۱۹۹۰

Pukhto.Net



چې ستا په لورې ګله ګام اخستے
پیچې په سر مې د الزام اخستے

خو اله مې راشه را ترغاړه وځه
د لرې نه مې سلام اخستے

ربیاره ته غونډارے چپل رغموه
ما ئې د سترګو نه پیغام اخستے

درد وند ټول کړي خوبولي زما
ما د مستۍ نه ګله جام اخستے

دا خو چیبي دي د دریاب د مینې
تا دے دشنام ما دے ناکام اخستے

ستا د ستم ګزار ثواب خو مې لے
ګله شي ستا نه انتقام اخستے

الریاض سعودي عرب ۹۴-۴-۱۴

Pukhto.Net



ټول وجود زمانشه وي چې ته خوا کښې راسره يې
ارمانونه مې اوده وي چې ته خوا کښې راسره يې

چې دوه زړونه سره يوشو ما روا خبره نه ده
رقيبان ولې غصه وي چې ته خوا کښې راسره يې

ګله ګله خواله راشه ستا راتله په ما بهار دے
دا پيله ژوند به مې ښه وي چې ته خوا کښې راسره يې

ښه دې اوکړه چې ته راغلې خو د تلو تورے مه وايه
د ژوند دغه خو مزه وي چې ته خوا کښې راسره يې

د ژوندانه خوندونه مې خوښيږي ځکه تل يې خوښووم
نور خوندونه به لا څه وي چې ته خوا کښې راسره يې

دې ماحول ته چې نن ګورم زړګني مې پکښې ورکيږي
ما ته ټول ماحول ښائسته وي چې ته خوا کښې راسره يې

په نصيب کښې دا وختونه ما ته اب له خوشحالي ده
دا وختونه دې اوږده وي چې ته خوا کښې راسره يې

بټه خيله — ۹۰ – ۲ – ۲۷

Pukhto.Net



# سندره

دَ زړه ګلشن کښې مې غمزولو نن بهار راځه
زما دلدار راځه
دَ بل وطنه

سترګې مې ړندې، جوړې رښتیا شوه
جفا بدله او په وفا شوه
توره تیاره وه دا په رڼا شوه
مینه مې پوره غم لا سیوا شوه

زه ور ته زلفې خوروم په لومه لار راځه
زما دلدار راځه
دَ بل وطنه

یاره چې زیرے ستا دَ راتلو شی
فکر مې خلاص دَ زولنو شی
مراد پوره مې دَ شوګیرو شی
وجود زما په تخنیدو شی

دا په غوا کښې دَ کارغانو چې چغار راځه
زما دلدار راځه
دَ بل وطنه

Pukhto.Net



والوړ بریحونه، کمه دي پروړي
نه پوره کیږي، دنیا ننګړي
قوم چې د شګو پیري غمري
مدام به ګرځي اوسترګي خمري

اوس په ژړاوي تطیغونه په ریبار راځي
زما دلدار راځي

د بل وطنه

پوهه به یې ذه په زور او زر کړم
نمونه نقل به ترینه هسې کړم
جال سنبه د زلفو به یې راګیر کړم
غیر به د حینې ترینه چاپیر کړم

په بل چاڅه کووم تقاب دی به باربار راځي
زما دلدار راځي

د بل وطنه

الریاض ۱۳-۱-۹۶

سعودي عرب

Pukhto.Net



○

روغ چې په ګلرو کې ګرېوان نه دے
تېر څو آسمان ته څه اسمان نه دے

لږ هم چې نرم په فرياد نشو
ګوګل کښې زړه یې د انسان نه دے

هر رنګه خلق پکښې ښکاري ولې
داستا کوڅه ده څه دُکان نه دے

د چا افسون دے راته ګوري چې نه
دومره ناترسه مې جانان نه دے

امید لرمه چې پوره به شي خو
ځکه پوره شي یو ارمان نه دے

دهلې د ښکلو په یارۍ کښې څو وي
ګله تو آب همو صبران نه دے

۵-۶-۹۴

Pukhto.Net



چې رقیبان یې د اسې وینې لمبه کیږي به خود
تنګه نوځه کښې چې روان وي دود بلیږي به خود

ښه ورته پته ده چې وخت د رانیولو نه دے
ځان چې د قسطه مړ وراکیږي سمه کیږي به خود

پند د سلګو اسویلو نه کوي اثر پیدا شا
په پرهرونو کښې درملونه غړغونیږي به خود

چې یې لګي د ویرنو کړو شروع نو ځکه
حاله چې ځخبنې له داځه اوس واشمیږي به خود

رانه چې خپل خواخوږي ګرځي غم په ذره ذره
سیلاب د اوښکو مې د سترګو نه بهیږي به خود

چې هره شپه یې په خنګل د یار خوب ونه کړي
چې یاري یې نه وي نو ثواب غریب کیږي به خود

۳-۸-۹۴

۹۴

# غیرت

لګولې وطن نه شه سکاره مزه کړې
غیرت په زړه کښې نه ښکاره مزه کړې

په خپل وطن باندې چې ننګ کوي څوک
د رب تعالیٰ په لاره کښې چې تل جنګ کوي څوک

تل د ایمان تور د تیره مزه کړې
غیرتا په زړه کښې نه ښکاره مزه کړې

هاته تېره تنده د چمن په وینو
او به خوړ وکړه د وطن په وینو

ګلونه ستا په وینو سره مزه کړې
غیرت په زړه کښې نه ښکاره مزه کړې

مخکښې څه مخکښې چې په شمار رانشي
په خندا راشه په ژړا رانشي

د نر وجود پاره پاره مزه کړې
غیرتا په زړه کښې نه ښکاره مزه کړې

که اتفاق راشي زمونږه په کور
خود به بلېږي په دشمن باندې اور

د دشمن کور کړه غرغره مزه کړې
غیرت په زړه کښې نه ښکاره مزه کړې

ترقي کېږي په محنت د وطن
هر ځائې پېدا شي بیا عزت د وطن

څه د ثواب هم او زیاده مزه کړې
غیرت په زړه کښې نه ښکاره د مزه کړې

۱۳-۷-۹۲

Pukhto.Net



اشنا ما شوم نه یم پوهیږم مه ژړه
ځیګر په لیږو دي خوشحالیږم مه ژړه

د نورو مخکښې ماله مه راځه ته
نور چې دې وینې خفه کیږم مه ژړه

سترګې دې ښکلي بانړه غشي ساتې
داچې رابیږي وشتي کیږم مه ژړه

خیر دے که خواله مې تېر دي راشي
ستا د حالاتو نه خبریږم مه ژړه

زما جانان د محبت تحفه ده
ګله د ښپوئي خاورې کیږم مه ژړه

ذلفې ئې ځیګر ئې خورې کړې ئې دي نن
په دې څادر کښې خو پټیږم مه ژړه

ښائست دې ځیګر دے ته ښکاره وي کړه
ستا د ښائست نه خوزاریږم مه ژړه

رییار چې ذیرے د وخا تري راوړي
په هغه باندې ګډیږم مه ژړه

۲۴-۱-۹۰

# بې وسي

زما دوند

ارمانونو

دَ ن خزمه ئے چې

خیل وطن نه

بل وطن ته

ما را وړے

ستا دلاسه، ستا دلاسه

دا یادونه راسره وي

د خلوت په سکېره کښې

آسمانونه مې پیاته وي

د لوی چارو یې لوځه

څه چې اوشو

او څه کیږي

ستا دلاسه، ستا دلاسه

د سپوږمۍ په سناسته نیې وتي

خوالښې ستوري پیتول ضاشتي

چې خزان ورمانده وتي

غوټۍ خود تالاه متره نه شي

غوټۍ ستوري هیڅ هم نه وي

ستا دلاسه، ستا دلاسه

Pukhto.Net

تل مې شلېدلی دَ ظلم تال دے
کړے اثر په ما دَ چا جال دے

خلق خندا هم او خوشحالي کړي
ذه تل غمژن یم عجیب مې حال دے

په ما خو بیا هم تیاره خوره ده
دَ چا دَ حُسن بل که مشال دے

بس کړه زمانه نور مه پېښېږه
ستا نه مې دغه اے یاره! سوال دے

چې به دوه سترګې پرې ما لیدلے
چا جوړ ورانَ کړے هغه دیوال دے

بنده پرې پوهېږي چې چا ګېر کړے
تراَب هیڅ نه وئ چې بې مجال دے

۲۱-۴-۹۱

Pukhto.Net



# سندره

ننه دیر یمه خوشحاله چه په ما باندې بهار دے
راغلے زما یار دے ، دیدن به ئې کوومه

دیدن چه زه کوومه
خیل زړه خوشحاله وومه

مونږ مینه چه کوو د دنیا لپاره دې کښې څه کار دے
راغلے زما یار دے ، دیدن به ئې کوومه

زما خوا له چه راشي
نوغلي په خندا شي

هم دغه خندا ګانې خو زما د زړه قرار دے
راغلے زما یار دے ، دیدن به ئې کوومه

دواړه زړونه چه یو کیږي
دنیا ټوله لړزیږي

بس زړونه چه درزیږي دا په مینه کښې اقرار دے
راغلے زما یار دے ، دیدن به ئې کوومه

زمونږ بیله دنیا ده
نه ظلم نه جفا ده

رقیب نه یو په تیښته دا په دې دنیا کښې خار دے
راغلے زما یار دے ، دیدن به ئې کوومه

۱۸-۵-۹۰

Pukhto.Net



د یار په سترګو کښې خړې ښکاره شوې
وا د ذهنونو حادثې ښکاره شوې

ګڼمې ما ته فرهاد مجنون یرې ګلې
دې کښې مینو ته هنرې ښکاره شوې

چې خیل اشنای ېې لیدلے دے نن
خړې سترګې ې ځمرې ښکاره شوې

ما خو صرف نیت د ګیلې کړې وو!
په انګو کښې ې غصې ښکاره شوې

شومې به څوند کښې اسوېلې ملګرې
په اسویلو د زړه ځانې ښکاره شوې

ما وې چې ما له تسلي به راکړې
ولې به لاس کښې دې چیړې ښکاره شوې

د فراق غم تو آب ز غلے نشو
نن ې په صبر شنې خړې ښکاره شوې

۱۳-۲-۹۰

Pukhto.Net



# څه شي؟

چې بند بند شي هغه بنه شي
چې خوار بند شي هغه څه شي

په لوړه دے د وهلو
چې په نيمه شپه ميلمه شي

څه به ئې خوند وي اے ملګرو!
په ليسو چې يار نه شي

بيا به هم نه خواريږي
چې ته يو ځل پښتانه شي

دنيا ولې نه ورانيږي
خان غريب ته چې غصه شي

د غرور څادر تري تاؤ دے
څنګه نرم به ئې زړه شي

څوک او به بلئ توآبه
ستا د تيلو چه يوه ميږه شي

۲۲-۶-۹۲

Pukhto.Net



دومره زړه چې مې ژوند تېر شو پوهه نه شوم
دا يو خوب وو څه له هېر شو پوهه نه شوم

په تندي يې د مرګ لقوم خو چېرته ته وو
څنګه دې جال کښې خلق ګير شو پوهه نه شو

دا خو تېزي وو چې ټاله وو درغلي
چې راستون شولو په وېر شو پوهه نه شو

خلق وو يې د عاشقۍ سبق اسان دے
دا خو ما ته په زور زېر شو پوهه نه شو

ما خو وې چې يو ثواب دے غمزيلے
غمزيلي چې نن ډېر شو پوهه نه شو

۳۰ ـ ۳ ـ ۹۰

Pukhto.Net


# سړه

که دیدن کړې بوڅې له راشه نن مې هور نشته
داسې څوک نور نشته ، د زړګي سره

نن مې وهلي دي ، ښکلي خالونه
الېښي مې تاله دي ، شونډې لالونه
لاس کښې نیولي مې دي سره ګلونه
په ما حرام دي که مره د شپې خوبونه
زړه کښې لرمه ډېر ارمانونه

خوره خوره ورته ولاړه یم څه شور نشته
داسې څوک نور نشته ، د زړګي سره

لېږې مې پورته ، شوې د څېګره
داسې ستم څه کړه اې ښکلې ره
ما بغاوت کړې د خیل ټبره
دومره پیر یېږې ولې دلبره
ما خو دا ننګلي ، دي د خیل سره

نن له راغلې بیا د ګلو باغ سمسور نشته
داسې څوک نور نشته ، د زړګي سره

Pukhto.Net



تالا والا به ، زما ځوانی شی
هسې عبث به ، زموږ خواری شی
دې لږ ژوندون کښې ، چې جدائی شی
خپر له نصیب کښې ، هو رسوائی شی
هر وخت هغو ګرانه د اتفاقئ شی

په دنیا کښې څه کووم د زړه تلوار نشته
داسې څوک نور نشته ، د زړګی سره
یم غونډه منډه درته والاړه
دا هسکه هسکه اوتری د غاړه
د بیلتانه اور کښې ، شوم د لتاړه
خلک به مې چنې کړی دا خلق واړه
نو آبه حاته شه غاړه په غاړه

زه د سحر نه یم والاړه نور مې زور نشته
داسې څوک نور نشته ، د زړګی سره

۱۳ - ۱ - ۹۶

الریاض
سعودی عرب

Pukhto.Net



ځه به ته دوي غونه هېر غونه کړم
یادېږي تنهایۍ کښې ستا یادونه کړم

بس کړه فکر تیار اسره وکړه ته
ځومره ستا نوځه کښې به شړونه کړم

ستا مینه کښې هر څه دي قبول زما
خیر دے تل برداشت به پېغورونه کړم

ګورم کلښې ژوند له ژړلنې مدام
ځکه دې د دنیا د باغ کښې سیلونه کړم

خلق خوشحالي کړي خندا ګانې هم
زه چنبوم غونه هم وبرو نه کړم

کړي په ظاهر مینه په باطن نفرت
ځکله ورته لرې د زړه ورونه کړم

تا له د نفرت تیاره روښانه کړه
نه به چرته هېر دې احسانونه کړم

څوک زما په لور چې قدمونه ږدي
زه ثواب به ښکلوي قدمونه کړم

بټ خیله -
۱۹-۲-۹۱

Pukhto.Net



# تیاره او رڼا

نن که تیاره جوړه ده په ما باندې
ورځ به چرته راشي خبر دے ما باندې

داغو په ظاهره زه څه نه وایم
زړه به مې مجبوروکړي په غوغا باندې

ولې په دولت دې نن غرور کوے
ته به ځے دا پاتې به دنیا باندې

هر طرف ته ناست دي شلماران خلقه
دلته اعتبار پاتې نشو چا باندې

هر څه رب تعالیٰ راکړي وس مې نه رسي
پوهه نشوم خلقو خپل خطا باندې

ځئ چې ټول په جمع ورته یو شو ونږ
نه کتلے کیږي حق تنها باندې

ګټه که دعا باندې کیدلے نو
ستړي شو لاسونه په دعا باندې

دا وطن چمن دے چې خدمت ئې کړو
را به شي سپرلے په هره خوا باندې

۹۰-۲-۱۴

Pukhto.Net



زما پرې ښه خو غوبل جوړ به وي تل ستا په کوڅه
چې رقیبان څوکداران ودرول تا په کوڅه

ماوې د دوو زړونو دنیا ده وې د ګلینه به تل
ته چې خفه شوې زه به نه درځمه بیا په کوڅه

چې د نسیم هوا لګېږي شور مې په غوږ ونو راغې
جوړ رقیبانو دې شړلے دے بېګاه په کوڅه

ستا په کوڅه کښې مې ژوندون دے نو ژوندے یم ځکه
خون بدصې وکړے چې بندے ته یاره ما په کوڅه

که دې په زړه کښې رحم راغې نو فریاد مې واوره
زه به تر کومې درته ګومه الا ګړا په کوڅه

ستا په کوڅه کښې که انیب مې نه وي نه دې وي خیر
چرته خوار شه اے زړګیه! ته زما په کوڅه

د یار غمونو که ثواب مې کړو پروا نشته دے
خو جنازه مې ګورے ولیسئ د اشنا په کوڅه

۲۰-۱-۱۹۹۱

Pukhto.Net

# سندره

خوا کښې مې کېنه یاره ستا نه نه صبرېږمه
هم در نه زارېږمه
مه ځه بل وطن ته

د نګلرو دې سپینې څنګلې
ورپسې مروړې به، دوانړه څنګلې
که ګرېوانونه ما ستا شلولي
په تار د زلفو مې تل ګنډلي

په دیدنو باندې ستا ګله صبرېږمه
هم در نه زارېږمه
مه ځه بل وطن ته

چا ته به وایمه، د زړه حالونه
ورځ او صبا شته نه وي، تېر شي ګلونه
هېره مې تنکه کړه وا ستا یادونه
کولے نشم ، نور ناکامونه

تل به ځواني نه وي فضول درنه زهیرېږمه
هم در نه زارېږمه
مه ځه بل وطن ته

Pukhto.Net



تورووم سترګې، تل ستا دَ پاره
اوربل لاګل راوړه ګل دَ ګلزاره
پټه پټه په سترګو کښې، څه وې دلداره
لاس چې راکوې، اے زما یاره!

لاس چې راکوې دومره نرمه یم خفه ویږه مه
هم درنه زاریږه مه
مه ځه بل وطن ته

دَ اوورې سیورے، وې ستا لوظونه
خاورې ایرې چې شو ټول امیدونه
په مخ دَ اوښکو ځی سیلابونه
نو آبه تا ته کووم سوالونه

په سور پالنګ کښې درسره زه اوده کیږه مه
هم درنه زاریږه مه
مه ځه بل وطن ته

۲۳-۱-۹۶ الریاض

سعودی عرب

Pukhto.Net



حلالیږمې ته په تیغ دَ هجران بیا
ولې ما پورې خندې ته جهان بیا

دَ بهار په طمعه ستا کوشه کښې پروت ووم
خو خبر ووم چې راځي به خزان بیا

تا خو ویلي وو چې دَ چا نه یمه ستا یم
دا رقیب دې چې راوست ترجمان بیا

تازه ما سره چې دومره ظلم وکړو
ذه افسوس ژاړم په ما ژاړي آسمان بیا

په ثواب یو ځل دَ مینې نظر وکړه
چې په قبره مې ځي پاتې نشي ارمان بیا

۱۸-۱۲-۸۹

Pukhto.Net



# نشم

د زړه خبره چې کولے نشم
داسې ظلمونه نور ليدلے نشم

چې يو خفه وي بل خوشحالېږي
دا رواجونه زه منلے نشم

داسې دوران دې په دنيا راغلے
پکښې چې زه هډو خندلے نشم

که مې قلم هم په دا اصولو ګېر شي
دروغ خبرې بيا ليکلے نشم

چې مې جوړه کړې ته خلوص نه راوړې
وعده صيلما زه رابللے نشم

د نيغې لارې نه مې ولې اړوې
په کږه لاره باندې تللے نشم

ظالم سماج که راته ژبه پرې کړي
دا زه قوات به بيا هم غلے نشم

Pukhto.Net



ما نه چې يار ستمګر مخ پټه وي
ګله صابنام نه چې نمر مخ پټه وي

ذه خوې خيال کښې ديدن کوم مدام
دا که زمانه بهر مخ پټه وي

په ځان دَ حيا خوا يخولے نشي
ذړه کښې دننه پرهر مخ پټه وي

ذړونو کښې اوس پخواني حسينه نشته
دنيا نه ځکه ګودر مخ پټه وي

ذه خوې وينمه دَ زړه په سترګو
څومره که دا په هنر مخ پټه وي

ګورے چې بيا څه اوريدلي اشنا
په خوا چې کيږي مې ګذر مخ پټه وي

تواب له دل لوړو دَ غمونو ميچن
خنک به ميچن دَ کسر مخ پټه وي

۳۰-۷-۹۱

Pukhto.Net



# سندره

وریځ خوره شوه جوړ د غم باران وریږي
اشنا رانه بېلېږي
ژړا لیسې کوومه

یواځې ما پرېږدې په کلي ، څه رحم نه کړې
د جدایۍ په تېغ مې وژلې ، څه رحم نه کړې

ورته کتې نشمه سترګې مې شرمېږي
اشنا رانه بېلېږي
ژړا لیسې کوومه

ګور ته ځله به اوس ځمه ، چې یار نه وي
خو به اجل ته ځغلمه مرمه ، چې یار نه وي

ما شوم زړګه مې اوس په څه نه رضا کېږي
اشنا رانه بېلېږي
ژړا لیسې کوومه

د صبر جام به چېرته ګورم ، هیڅ پوهه نه یم
رنګین ما بنام به چېرته ګورم ، هیڅ پوهه نه یم

ور ته منت کووم ثواب نه حصار یږي
اشنا رانه بېلېږي
ژړا لیسې کوومه

۲-۵-۹۲

Pukhto.Net

قیمت د مینې به ادا څوک نکړي
صبر و به ستا هره ادا څوک نکړي

د زړه نه خړې چې دې لرې نکړې
بیا درسره خو به وفا څوک نکړي

یمه ډوب کړې د غمونو سیلاب
هسې دې ما پورې خندا څوک نکړي

که تنګ نظري وکړې دنیا ورله شوې
بیا به د چا سره جفا څوک نکړي

تل که دنیا کښې لرې صحیح خبرې
یقین د خوارو په وینا څوک نکړي

یو ځل غم ژاړې بل خندا کړې ورته
دا ناروا به لا روا څوک نکړي

توا به سخته که په تا راغلي
داسې به ګرځې ستا پیروا څوک نکړي

۸-۳-۹۱

Pukhto.Net



# مصرېزه سندره

په ما قيامت دے په دنيا زه څه کوومه
ياره خپل، خپل وطن ته راشه ياره خپل

د سعودي پيسې به څه کړم
ځوانه ځواني چې راله خاورې ايرې کړينه

دغه دولت شه خاورې خاورې
د تورو غرونو چې تا فنا کوينه

په لټه کښې اوږمه راوړم
بغير لټانه راله خوب کله راځينه

خښتې د سرو دې د بل چا شي
د سرو په خښتو ستا ديدن نه ورکوومه

مسافري بس نوره څه کړه
زه درسره ژوند غريبه کښې تيروومه

ته خو زما د ستړو نو تورې
نو به ځکه په تا ځان قربانومه

۹۳ - ۴ - ۲۰

الرياض سعودي عرب

Pukhto.Net



چې ژړا سره مې اشنا په جنګ وي
ښه به وي خوند سره به ئې رنګ وي

دا ښه غصّه وي خو ما خندلې
دا به زما غیرت او ننګ وي

ما به وي ګل ورته نیولې
لاس کښې د دې له تل تفنګ وي

د جنت حورې به نورې څه کړم
چې محبوبا، مې څنګ په څنګ وي

زما او ده جذبې کړې ولیښې
چې په تیاره کښې د پانزیب شرنګ وي

عجیبه شانې دا فلسفه ده
دا نوئ جهان چې ما ته تنګ وي

چې د ثواب ځمکې اودې کړې
نشه له نورو او که د جنګ وي

۲۴-۱۲-۹۰

Pukhto.Net



# سندره

د فلک تال تل ځانګومه چې زه چا اوخوړم
یادونو ستا اوخوړم
تپوس مې وکړه

ته مې د حاله خبرې ، ټوټې ټوټې شوم
ولې د خلقو نه اوترې ، ټوټې ټوټې شوم

د رواجونو بلاګانو زه بیا بیا اوخوړم
یادونو ستا اوخوړم
تپوس مې وکړه

اور مې وجود ماندې بلېږي ، سلګۍ مې ګوره
زړه په ټوټو ګل کښې مې ورتېږي ، سلګۍ مې ګوره

د زړګي سره هم سحر هم ئې بېګا اوخوړم
یادونو ستا اوخوړم
تپوس مې وکړه

چرته د تېښې لار مې نشته ، چې وتښتمه
سم رحدله یار مې نشته ، چې وتښتمه

هاته ګناه هم نشته زه ئې بې ګناه اوخوړم
یادونو ستا اوخوړم
تپوس مې وکړه

۲۰-۷-۹۰

Pukhto.Net



چې د کلونو مې وزر اوشي
د اشنا ګله به باور اوشي

اوښکې به چاته تویومه نوڅه
بلکه باران به سمندر اوشي

یار چې مې کلي ته راوړي تږي ګلېړه
واره دې تل په هغه غر اوشي

راته په مرورو سترګو چې ګوري اشنا
په ما څه بل شان اثر اوشي

کلي رقیب ته ځکه خاندمه چې
هسې نه قتل ستا په در اوشي

ته دې نو نوله راکړې وختونه
زه ثواب وایم چې ذر ذر اوشي

٣١-١-٩١

# سندره

په کښې چې مېنه نه وي داسې دنیا کې څه کووم
په زندګۍ څه کووم ، زړه مې ترې موړ دے
لوټوونه ماسره کېږي
لېډه بل چا سره کېږي
چې د اغیار سره ئې وینم دا ماله څه کووم
په زندګۍ څه کووم ، زړه مې ترې موړ دے
نن چې پیالې ما تېرېږي
زړګي مې ډېر خوږېږي
شراب د حسن چې پکښې نه وي پیالې څه کووم
په زندګۍ څه کووم ، زړه مې ترې موړ دے
تنها سوچونه کووم
د بل غمونه کووم
ډېر چې ئې تنګ یمه په داسې تنهایۍ څه کووم
په زندګۍ څه کووم ، زړه مې ترې موړ دے
وران مې د زړه کورونه
ځکه کووم وېره نه
اوس به دنیا له جواب د رسوایۍ څه کووم
په زندګۍ څه کووم زړه مې ترې موړ دے

۳-۹-۹۰

Pukhto.Net



د ژوندون هره لمحه چې په ازغو شي
د ګلونو شمع هره په اسویلو شي

چې تیرې ځان او هم جهان ناکړدي هېر کړي
شمار یې په صف کښې به بیا خود د لیونو شي

لسولي وار ما په کانړو ولي
د ورچاو کښې راته دا په نندارو شي

خود به زنګ شي ستا نو څه زما په وینو
چېرته واز له پرهرونه مې د ښیو شي

کله چې یار زمانه رخصت اخلي
بس د اوښکو سیلاب راځي په لیمو شي

واسې غیر اوس په جهان کښې ژوندل ګران دي
چې ثواب پکښې اوده په الله هو شي

۷-۱۱-۹۰



ستا په ذمره کښې د خان قدر خټک پیدا اکرم
په سپوږمۍ د ګلو کرشمه اسان نه دی

تواب ترابي